AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۶/۰۹/۲۳

# د نه ویلو موسم



ښه ده!
خپل سر ښکته واچوي
او پرېږدي
چي اوښکي دي
ستا په ځای خبري وکړي.
+ + + ++
ځيني خبري نه ليکل کيږي
او نه هم چا ته ويل کيږي
ځيني خبري
يوازې نيمه شپه
د کړکی خوا ته
پټه خوله
په سترګو ژړل کيږي
خلک وايی
بنيادم له تيږي کلک وي
خو زه يي ګورم
بيناد‌م په هغو خبرو!
چي يي ټول عمر په ځان کي خښني کړي
څنګه
د شيشي غوندي په کرس کرس ماتيږي
خيني خبري
لکه ترخاورو لاندي پراته تخمونه
کلونه وروسته راشني کيږي
او بنيادم له دننه
په يو لوی ځنګله بدليږي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ